Academy of Sciences of Afghanistan

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو د علمي مرکز
خپرنیز ارګان
د تاسیس کال ۱۳۱۶ هجري شمسي

پنځلس ورځنۍ

# زیری

چهارشنبه ۳ – ۴ مه ګڼه، دریمه دوره، پرله پسې ۱۷۹    ۱۸۰ مه ګڼه، ۱۳۹۲ لمریز کال، د غويي (۲۵) مه، ۱۴۳۴ ق د رجب المرجب (۵)، د ۲۰۱۳ میلادي کال د مې (۱۵) مه نېټه

۱

# په نکلونو کې د ناموس کلمې ارزښت (۲)

څېړنپوه میر احمد ګوربز

آدم خان او میروګی هک پک پاتې کېږي چې اوس له ښاپیریانو سره څه وکړي د ادمیانو زور له ښاپیریو سره کله سم دی ځکه هغه په سترګو نه لیدل کېږي او هغه په تش جادو سره له انسان نه هر څه جوړولی شي. میروګی آدم خان ته وایي چې دا څه د غم کودی دی دا درخو نه ده بلا ده د دې له لاسه مو شپه او ورځ په کړاو ده راځه له دې کاره تېر شو. پرته له دې چې ما او تا خپل سرونه بایللي وي بل څه په لاس نه راځي. آدم خان ورته وویل: ستا خبره بېخي سمه ده خو دلته د ناموس خبره په منځ کې ده د هر څه نه یو سړی تېرېدای شي خو له ناموس نه تېرېدنه هېڅ امکان نه لري زه او ته دوه لارې لرو چې له دې جنجاله خلاص شو او دا د شرم پګړی له سره ایسته کړو. یا د تل لپاره خپل وطن پرېږدو، چې له خپلو ترېرو او عزیزانو سره مو سترګې مخامخ نه شي او یا په همدې لاره کې دواړه له منځه لاړ شو؛ ځکه کور او کلي ته زما او ستا تګ ناممکنه خبره ده له هیچا سره به په جګ سر او لوړ آواز خبرې نشو کولی او دا پیغور به زما او ستا لمسیو او کړوسیو ته پاتې شي، چې له آدم خان نه یې ناوې یوړه او هغه یې هیڅ پروا ونه ساتله او دا څومره بې شرمه او کلکې سترګې لري او لا ژوندي ګرځي او په پښتنو کې له دې ستره بې ننګي او بې غیرتي چېرې ده او تر داسې بې ننګه ژوند نه مرګ سل کرته شرافت لري.

له دې خبرو اترو نه وروسته دواړه په خدای توکل کوي د همغه ړانده ښاپیري وطن په سترګو پټوي. وایي د غیرتمنو خدای ملګری دی. د ملنګانو پیرانو او ښو خلکو په برکت او مرسته د زیاتو ستونزو له ګاللو نه وروسته درخانۍ له هغه ښاپیري نه راولي او ښاپیري ته مرګونې جزا ورکوي او په دې توګه دوی د غیرت او ننګ شمله جګه ساتي. (۲۹ر۱۷۷ نه تر ۱۷۹)

آدم خان دا توره وکړه او له خپل ناموس نه یې د ښاپیري پر وړاندې دفاع وکړه خو آدم خان ته لا د پیاوي سردار کشاله پاتې ده او پیاوی هم مجبور دی چې د خپل ننګ او ناموس د پرځای کولو لپاره په هېڅ قیمت له درخانۍ نه تېر نه شي ځکه اوس درخانۍ یوازې په آدم خان پورې اړه نه لري؛ بلکې پیاوی هم هغه خپل ناموس ګڼي نو ځکه د آدم خان او پیاوي ترمنځ زیات جنګونه منځ ته راځي په اخر کې آدم خان په سره توره د پیاوي له خوا وژل کېږي چې په دې باب مختلف روایتونه موجود دي (۳۲، ۳۰ - ۳۳) په دې توګه پیاوی او آدم خان دواړه د شرم پېټی له اوږو نه ایسته کوي خو یوازې د ننګرهار نکلونه د آدم خان او درخانۍ مینه کامیابه بولي. (۳۱ ر۵۳ - ۵۴).

د آدم خان پلار له درخانۍ سره د آدم خان له ژورې مینې نه خبر نه و که څه هم هغه یې په کوچنیوالي کې ده ته په

**پاتې دریم مخ**...

# په لنډیو کې ځینې ادبي صنایع

څېړنپوه علي محمد منګل

که په یوه نظم یا نثر کې د څو اسماوو او صفاتو ذکر وشي، تنسیق الصفات یې بولي[۱].
ځینو پښتو ادب پوهانو یې بیا داسې تعریف کړی دی:
تنسیق په لغت کې پیېلو ته وایي ، یعنې د شعر جملې سره په خپلو کې داسې تړل او په یو بل مرتبې وي، چې ته به وایي دا ټوله یوه جمله ده[۱].

پښتو سندرو کې یې دا لاندې نمونه وګورئ:

خــال دې فقیــر مــخ دې زیــارت دی
دا نــرۍ وروځــې دې جنــډې ولاړې دینــه[۱]
خــزان پــه زیــړو ګلــو راغــی
بلبــل، بــورا او بــاغوان ټــول ژړا کوینــه
د شــاه د زلفــو قیمــت نــه شــته
که غرونه سره شي کاڼي بوټي شي لعلونه
پــه ســترګو ړونــد پــه غــوږو کــوڼ شــې
پــه ژبــۀ ګونــګ شــې چــې ونــه وایــې حالونــه
چــې خــال او خــط نخښــې پــه کــې دي
ځکــه هرګــل تــه دوه لاســې ســلام کومــه[۱]
کــړه وړه شــه پــه خنــدا شــه
پــه مخــه راشــه رانــه واخلــه ډېــر غمونــه[۱]
ځــواني شــجر زلفــې دې څــانګې
ســره انــنګــې دې مېــوې نیســې ګلونــه[۱]
په دغو ولسي دردانو کې د اسماوو او صفاتو؛

پاتې درېیم مخ...

# استاد محمد صدیق پسرلی، په معاصرې پښتو شاعرۍ کې د هندي سبک بشپړ استازی (۲)

نورالحبیب نثار

استاد پسرلي په ګڼو بحرونو او آهنګونو کې شاعري کړې او په دې برخه کې یې هم د پام وړ اضافه کړې ده. ده په نویو بحرونو او وزنونو پسې مښود کړی او له ښه مرغه موندلي یې دي. ده ډېرو اوږدو بحرونو او وزنونو کې د غزل لیکلو تجربې کړې دي؛ مثلا د ۲۲ او ۲۴ څپیو غزل یې لیکلي دي چې تر ده وړاندې یې بېلګې نه لرو.
استاد پسرلي کله کله د خپل غزل هرکلی هم کړی.
په یوه قافیه او یوه ردیف یې بیا بیا غزل لیکلي دي.
دی د غزل بیتونو کې د جفت یا تاق خبره د کوم اصل په توګه نه مني. ده داسې غزل هم لیکلي چې له مطلع او مقطع پرته فقط یو بیت لري او داسې غزل یې هم لیکلي چې مطلع یا مقطع او یا دا دواړه نه لري.

د فکر له پلوه، استاد له خونړیتوب، تملق او ریا سره سخت مخالف دی. د صداقت، خلوص، تواضع، مینې او استغنا تلقین راته کوي. شهرت د لویۍ نخښه نه بولي. د محبت عالم همېشنی ګڼي. د ځان پېژندنې او موندنې په لټون کې دی. معشوقه یې پر فزیکي ښکلا سربېره د معنایي او اخلاقي کمال مېرمنه هم ده. دی د ولس د تنویر، ترقۍ او تهذیب زښت زیات پیغامونه راته لري او له وطن سره د مینې او محبت درس راکوي . دی د زړو فکرونو تداوم په کلکه چیلنجوي:

نــه زوړ منطــق چلېــږي دلتــه، نــه زاړه فکرونــه
ځیرک زلمي په تاوده جنګ کې هم سنګر بدلوي
هر څو که پسرلیه، سر تر پایه اور اوبه کړو عشق
بیا هم لکه شمې خپلو پښو ته څڅېدلي یو

استاد پسرلی د فارسي ادب پراخه مطالعه لري. د خپلې ژبې کلاسیک ادب یې په ژوره توګه مطالعه کړی او معاصر ادب یې په وخت تر نظر لاندې ساتلی. البته، د خوشحال بابا او کاظم خان شیدا پر شاعرۍ سربېره، له لنډۍ سره د زړه مینه لري. دی وایي چې پښتو شاعرۍ ته هم دوی رااړولی دی.
له متقدمانو سره ارادت او عقیدت، له معاصرو سره ارتباط او تفاهم او د راتلونکو نسلونو په وړاندې د مسؤولیت احساس د بشري تهذیب او تمدن لویې ځانګړتیاوې دي او د استاد غزلې د دغو ځانګړتیاوو قامت نما هنداري. د ده په غزلو کې د پښتو او فارسي شاعرانو اثر جوت دی. د فارسي شاعرانو ځینې بیتونه یې د غزلو په ترڅ کې په پښتو شعر اړولي مګر، له پردي مضمون سره د جدي حساسیت له کبله یې د هغوی مضمونونو ته د غزلېن په متن کې اشارې کړي او په لمنو کې یې ښودلي دي.
افغانان، په تېره بیا پښتانه نېکمرغه دي چې په خپله مظلومه او محکومه ژبه کې ورته دومره لویه خزانه په ګوتو ورغلې ده. دوی ته په کار دي چې دغه خزانه راوسپړي او په پانګه یې بدله کړي. داسې به هله وشي چې د استاد د غزلو بېلابېلو ژبنیو، ادبي او هنري محاسنو باندې کار وشي. دا اوس زموږ د ژبو او ادبیاتو د مرکزونو او بنسټونو لپاره واقعاً یوه لویه ننګونه ده. ځکه، غزلېن ګڼې داسې موضوعګانې لري چې ژوره کتنه، ځیرنه او څېړنه غواړي؛ مثلاً : ژبه، خیال او فکر، وزن، بحر او آهنګ، طرز ، سبک او مکتب، بدیعي، بیاني او معنایي محاسن، انځورونه او سمبولونه، شعارونه او پیغامونه، نوي او زاړه لغتونه، محلي لهجه، کابل، پېښور او ایران کې لیکل شوې غزلې، د زلمیتوب، ځوانۍ، پخې ځوانۍ او زړښت د زمانې شاعري، استاد باندې د فارسي او پښتو د کلاسیک اغېز، روان ادبي او شعري بهیر باندې د استاد اغېز، د استاد د شعر نظریه او استاد د نورو په نظر کې....
د استاد شاعري مطبوعاتو کې خوره وره نشر شوې ده. د غزلېن له خپرېدا سره به زموږ اوسنۍ شاعرۍ، په تېره بیا غزل ته د استاد د ورکړې د څېړنې زمینه لا پسې ښه برابره شي. د ده شاعري پر ادبپوهانو سربېره، د ژبڅېړونکیو لپاره هم په زړه پورې پانګه ده. هیله لرم چې غزلېن به دلوړو زده کړو نصاب کې شامل او د ژبو او ادبیاتو مرکز کې به د استاد پر آثارو د څېړنې لپاره ځانګړی واحد جوړ شي.
ضروري نه راته ښکاري، که وایم چې د غزلېن ترتیب او تدوین کې د هغه تاریخي بهیر ته ډېره دقیقه توجه نه ده شوې. یا په کې یو نیم ځای یوه نیمه کلمه فوت شوې یا ناسمه لیکل شوې او یا په کې ځینې ځای یوه نیمه مسره پاتې ده. ځکه چې دا هر څه د غزلېن د حجم په تناظر کې د نشت برابر دي. په آخر کې، لیکوال او ژورنالست ښاغلي محمد زبیر شفیقي ته د خیر دعا کوم چې د غزلېن په ترتیب، تدوین او پروف لوستلو کې یې زښت زیات زیار ګاللی او پخه سریزه یې باندې کاږلې ده. دغه راز، د غزلېن له چاپ او خپرېدا سره د میدان وردګ د والي ښاغلي محمد حلیم فدایي د ښوالتیا او مالي مرستې له کبله ده ته له پروردګاره روغه ستړه، هوسا ژوند او دې ته ورته د نورو سترو سترو خدمتونو د ترسره کولو توفیق غواړم.

# د استاد ګوربز یاد

سیدنظیم سیدي

شیرین عمر چې تېرېږي دریغه دریغه
دا اوبو په څېر بهېږي دریغه دریغه

د احمدشاه بابا دا بیت هله په زړه خوله ولګوي، چې کله سړی د خپلې علمي کورنۍ درنه سټه له لاسه ورکړي او هله یې په قدر پوه شي، چې سپیوه شي.
خبره مې د اروابښاد استاد ګوربزه ویله، اوس بویه مجبوراً ورسره اروابښاد هم ووایم؛ ځکه تر څو ورځو وړاندې ښاغلی استاد ګوربز و، خو نن اروابښاد ښاغلی استاد ګوربز دی.
لا مې د ښوونځي په لومړنیو پاړکو کې ګامونه اوچتول، چې د پکتیا نکلونو کتاب تر کوره مو اروابښاد پلار را ورساوه او پر موږ یې ټینګار کاوه، چې دا کیسې ولولو. ښایي د هغه موخه په کې دا وه، چې په وسیله یې زموږ لوستنه او املا ښه شي؛ خو دې کیسو پر ما نور اغېز هم ښنده او د هرې کیسې په لوستلو سره به مې سل افرینه د هغه پر لیکوال ویل، لیکوال یې هله راته لوی او اتل شو، چې کله مې د ماسترۍ په پروګرام کې د فولکلوري کیسو ارزښت وپېژاند او هله یې په ارزښت پوه شوم، چې کله مې د دغو کیسو بېلابېل وریانټونه وموندل او په زړه چاودون یې خبر شوم، خو چې کله مې د استاد له خولې د دغو کیسو د لسو ټوکونو خبره واورېده، نو بیا خو راته د دې ډګر مخکښ او سرلاری معلوم شو، ځکه تر اوسه به چا په دومره اخلاص او زړه چاودون دومره کار نه وي کړی، لکه استاد چې کړی و، خو بیا هم دریغه دریغه، چې په پښتون وطن کې مړی بد نه دی او ژوندی ښه.
استاد ولې یوازې په اکاډمیکه محدوده کې را نچوړ پاتې شو او پلوشې یې تر لرو پرتو سیمو خورې نه شوې؟ ښایي ملګري یې نور لاملونه هم په ګوته کړای شي، خو زما په اند دلته یې یوازنی لامل دا دی، چې نه یې چا دا لس واړه کتابونه چاپ کړل او نه یې د ده د دغه کار ستاینه قدرې وکړه، خو که جنګ او سوله نړیواله جایزه اخلي او نوبل سیالۍ ته نوماندېږي، نو ښایي د هغوی فرهنګ او ... تر موږ مخکې وي.
خبره د ماشومتوب وه، هېڅ امکان یې نه و، چې موږ به د ژمي په ورځو او شپو کې د استاد د ګوربزو نکلونو کیسې نه وی اورېدلای، ځکه دغو کیسو کې یو داسې زړه راښکون و، چې تر اخره یې ځان دربادې لوسته او یو څه یې دربادې زده کول، ډېرې نوې او بې پرې خبرې په کې وې او د لیکوال بریالیتوب هله وي، چې په لیکوالۍ کې د لیکوالۍ له ارونو پرته هېڅ ډول زولنې محسوسې نه کړي، بس څه یې، چې زړه غواړي په بې پرې توګه یې ووایي او دا ښېګڼه استاد ګوربز لرله. ده هڅه کوله ان په ولسي خبرو کې هم داسې خبرې وکړي، چې ویل یې په

پاتې درېیم مخ...

## د لوی او بخښونکي خدای (ج) په نامه

## سرلیکنه

### توضیح

په څېړنیزو متونو کې ډېر ځله ځینې خبرې یا اصطلاحګانې او نومونه سپړنې او توضیح ته اړتیا لري، چې بویه په لمنلیک کې وسپړل شي، د ساري په ډول موږ په پښتو ژبه کې د نړۍ د ادبیاتو په اړه یوه مقاله لیکو، چې په یو ځای کې یې د زیوس، هومر او یا هم تړای ښځې یادونه کېږي؛ خو زموږ لوستونکي ښایي له دې نومونو سره دومره بلد نه وي او یا یې دا نومونه اورېدلي وي؛ خو په اړه یې معلومات نه لري؛ نو څېړونکي ته په کار دي، چې د هر یوه له نامه سره ستوري ورکړي او په اړه یې په لمنلیک کې لنډ او ځغلنده معلومات ورکړي، چې لږ تر لږه د لوستونکي سر پرې یو څه خلاص شي.

زیاتونه: په څېړنیز متن کې زیاتونه هم اړینه او جوړونکې خبره ده؛ خو په دې شرط چې لیکوال یا څېړونکی له ایډیټر سره همغږی وي؛ په دې معنا څېړونکي ښایي د یوې خبرې د تاید یا رد لپاره خورا ډېر لاسوندونه او اقتباسونه را اخیستي وي؛ خو هغه لاسوند، چې په دې برخه کې برخلیک جوړونکی او بنسټیز دی هغه ترې پاتې وي او یا د یو داسې پیاوړي لیکوال نقل قول ترې پاتې وي، چې کولای شي د یاد څېړونکي لیکنه په یاده برخه کې سل په سلو کې تائید او یا هم رد کاندي، خو څېړونکي به یا نه وي را اخیستي او یا به یې هم ورته پام نه وي شوای؛ نو ایډیټر ته بویه، چې د داسې خبرو په اړه معلومات ولري او وکولای شي، چې په څېړنیزو متونو کې بنسټیز او اساسي نقل قولونه پیدا کړي او ځای پر ځای کړي.

بیا کتنه او سمونه: یو شمېر څېړونکي دا عادت لري، چې کله لیکنه بشپړه کړي؛ نو سم له واره یې ایډیټر ته د کتنې لپاره ورکوي، ایډیټریې هم له یو ځل کتنې وروسته، چې یوازې املایي تېروتنې یې سمې کړې وي بېرته څېړونکي ته سپاري؛ په داسې حال کې، چې څېړنه ډېرې کتنې، بیا کتنې او سمون ته اړتیا لري؛ په دې معنا ښایي په څېړنه کې د ځینو لیکوالو یادونه شوې وي، چې د ژوند او مړینې نېټې یې په ټولو متونو کې یو ډول خپرې شوې وي؛ خو حقیقت داسې نه وي، ښه بېلګه یې د پښتو ژبې د ستر صوفي شاعر رحمن بابا د ژوند او مړینې په اړه ده، چې په اړه یې ټول څېړونکي په یوه خوله نه دي؛ په دې معنا څوک یې په ۱۰۴۲، څوک یې په ۱۰۴۴ او څوک یې هم په ۱۰۴۶ او ۱۰۴۸ کې زوکړه د دقیقه بولي او همداسې یې مړینه هم در واخله؛ خو نوی څېړونکی او ایډیټریې ښایي په

# وزن

اسدالله غضنفر او نجیب الله منلی

غضنفر: استاد منلی! موږ وایو چې د پښتو شعر وزن په څپو اندازه کېږي او سېلابو تونیک دی او له عروضي وزن څخه چې د فارسي، اردو او عربي شعر ورباندې اندازه کېږي فرق لري. خو د عروضي وزنونه هم چې وګورې په څپو اندازه کېږي. د دغو دوو وزنونو بنیادي فرق په څه کې دی؟

منلی: وزن څه ته وایي؟ تلل دې ته وایي چې موږ په یوه سلسله کې مشابه یا سره ورته ټوټې پیدا کړو؛ یعنې یو ډول دوران پیدا کړو. په دې دوران کې باید یو څه ارکان په جمله کې یا په کلام کې په تکرار راشي. د اریایي ژبو اوزان اکثره هجایي اوزان دي یا عموماً د اندوارو پایي ژبو اوزان هجایي اوزان دي.

غضنفر: د پښتو غوندې؟

منلی: د پښتو غوندې یا پښتو ته ورته. په ځینو ژبو کې چې خج په کلمه کې مشخص دریځ نه لري، یعنې خج د کلمې په یو او بل ځای کې تغییر کوي، په هغو کې وزن سېلابو تونیک دی، یعنې هم هجا او هم خج ارزښت لري. په عربي اوزانو کې خج نشته. هلته د څپو اوږدوالی او لنډوالی مطرح دی. یعنې په عربي اوزانو کې لنډې څپې او اوږدې څپې چې څنګه سره ترتیبېږي دا وزن جوړوي.

غضنفر: د څپو له اوږدوالي او لنډوالي منظور څه دی؟

منلی: مثلاً ((ا)) ((پا)) او ((تب)) چې له یو کانسوننت یو غږ او بل کانسوننت څخه جوړ دی، اوږدې څپې دي. په دې معنا چې په ویلو یې ډېر وخت لګېږي.

غضنفر: او لنډه یې؟

منلی: به، ته، ثه، مه دا لنډې څپې دي.

کله چې عربي اوزان زموږ سیمې ته داخل شول او عربي شعر د رښتیني شعر، د ښکلي شعر د معیار په شکل ومنل شو نو په شرق کې هم د افغانستان او ایران ادیبانو کوښښ وکړ چې همدغه عربي اصول تر یو حده په فارسي کې هم تطبیق کړي. د دې د کړي.

غضنفر: د دوی په ذهن کې له وزنه هماغه مفهوم و؟

منلی: د دوی په ذهن کې د وزن هماغه مفهوم و او د دوی خپله ناکامي په دې کې وه چې خپله ژبه کې یې دا نه شو پوره کولای. په همدې خاطر مثلاً په ۱۶ او ۱۷ پېړۍ کې لنډۍ په ادبیاتو کې نه راځي، چاربیتې په ادبیاتو کې نه راځي، هغه اصناف چې د پښتو اصیل اصناف دي په دیواني ادبیاتو کې نشته. علت یې دا دی چې هغې ته څوک شاعري نه وایي.

غضنفر: ځکه چې په عروضو برابرې نه دي؟

منلی: ځکه چې په عروضو برابرې نه دي. نو کله چې د پښتو وزن ته خبره راځي په ناشعوري ډول دغه وزن د ټولو شاعرانو له خوا ډېر دقیق استعمال شوی دی. په پښتو کې د وزن معیار یوه څلور څپه ییزه کړۍ ده چې درې سېلابه یې بې خجه دي او یو سېلاب یې خج لرونکی. که په دغه څلور سېلابه کې اول، دویم، درېیم یا اخر سېلاب خج ولري نو ورپسې درې سېلابه بې خجه او څلورم خج لرونکی راځي.

غضنفر: دلته ګوره په یوه کړۍ کې، چې څلور څپې دي، په څلورو کې د وزن څلور ډوله احتمال شته؛ ځکه چې خج به یا پر اوله راځي، یا پر دویمه، درېیمه یا پر څلورمه او یو شعر ممکن یوه کړۍ وي، چې البته دا ډېر لږ لیدل کېږي، یا دوه کړۍ یا درې کړۍ وي. معمولاً درې کړۍ وي، دولس سېلابه وي یا شپاړس او شل سېلابه. په دې حساب په پښتو کې د وزن تنوع کمه نه ده؟

منلی: د وزن تنوع ډېره کمه ده؛ ځکه چې دغه کړۍ باید په عین شکل تکرار شي. که په اوله کړۍ کې خج پر اول سېلاب راغی په دویمه او درېیمه کړۍ کې هم باید خج پر اول سېلاب راشي یعنې پر اول، پنځم او نهم سېلاب باندې باید خج راشي.

کې لنډون نه راځي یعنې که وروستۍ څپه خجنه وه د ټولو مسرو د څپو شمېر برابر راځي. که چېرې د مسرې وروستۍ څپه ناخجنه وه نو د هغې تلفظ کېدلای شي چې ساقط شي. ډېر کسان چې لنډۍ وایي دا وروستی ((ـه)) حذفوي او په غوږ بده نه لګېږي؛ ځکه چې دغه وروستی ((ـه)) خجنه نه ده:

تا ویل نن ځم سبا به راشم
میاشتې دې تېرې شوې کلونه دې شمارم

دا په غوږ بده نه لګېږي؛ ځکه چې خج پر ((رم)) باندې راغی او ورپسې ((ـه)) بې خجه څپه ده؛ نو هغه کېدای شي چې ساقطه شي. په شعر کې په غزل کې هم دا کار کېږي.

توره چې تېرېږي خو ګوزار لره کنه
زلفې چې ول ول شي خو خپل یار لره کنه
مې شته چنګ و نی شته د خپل یار سره خوشاله

((خوشاله)) دلته خج پر ((خوشا)) باندې راغی او ((له)) بې خجه شو؛ نو دلته یوه هجا په کې اضافي شوله مګر ورپسې بیت کې:

خپل بیاض په لاس کې ځه ګلزار لره کنه

خج پر وروستي سېلاب باندې راغی. دلته ځینې مسرې دولس څپه ییزې دي او ځینې دیارلس څپه ییزې، مګر د شعر په وزن کې اخلال ځکه نه راځي چې د خج ځای تغییر نه دی کړی.

غضنفر: استاد منلی! ایا ویلای شو که چېرې د څلور څپه ییزې کړۍ په وروستۍ څپه کې خج نه وي، په دویمه کې وي یا په درېیمه کې وي، نو که یوه څپه کمه وي بیا که لوستونکی هغه خجنه څپه په فشار ووایي د هغه بلې کمی ورسره پوره کېږي. دغسې یو مفهوم واخلو؟

منلی: همدغسې یو مفهوم دی چې خجنه څپه د یوې بې خجې څپې کمی پوره کوي. البته په پښتو ادب کې اکثراً هغه اخره څپه لوېږي، چې یوازینۍ بې خجه څپه وي. که چېرې له وروستۍ خجه دوه څپې بې خجه راغلې، په هغه صورت کې لنډون ډېر کم دی او که د کړۍ پر اوله څپه خج وي او ورپسې درې بې خجې څپې وي په هغه کې لنډون تقریباً ما نه دی لیدلای.

غضنفر: استاد منلی! بېرته به عروضو ته راشو. تاسو وویل چې هندوارو پایي ژبې د وزن په لحاظ سېلابو تونیکې دي، په څپو اندازه کېږي. خو

اړه داسې دقیقه او کره نښته پیدا کړي، چې د نورو لیکوالو یا ورته هڅو پام شوی نه وي او یا یې هم دغه اخځ ته، چې یاد لیکوال لاس رسی پیدا کړی، لاسرسی نه وي شوای. یا هم په بله بېلګه کې لولو، چې یو مهال خوشحال بابا اروپایي ټولنې ته په الوتکه کې یون کړی او دا خبره خورا ډېرو لیکوالو او څېړونکو همداسې نقل په نقل را اخیستې وي؛ خو اوس ورته د یاد څېړونکي پام شوی، چې په هغه وخت کې اصلاً الوتکې جوړې شوې نه وې او که جوړې هم وې؛ نو د ګوتو په شمار او هغه هم په داسې هېوادونو کې وې، چې دلته چا نه پېژندلې؛ نو د داسې تېروتنو مخنیوی لومړی د څېړونکي او بیا ایډېټر کار دی، چې متن لومړی سم او له سمون وروسته بیا بیا یې وګوري او هرې خبرې ته په دقیقه توګه ځېرنه وکړي.

د اسلوبو ترتیب او منظمول: کله چې زموږ څېړنه څېړونکي او یا هم ایډېټر له پورتنیو ټولو بڼیو څخه تېره کړه، بیا نو د ترتیب او اوډون وار یې را رسي، په دې معنا ښایي زموږ ټوله څېړنه کره او نږه شوې وي؛ خو ترتیب یې سم نه وي، د سریزې خبرې په پایلې او د پایلې خبرې په منځپانګه یا ار متن کې راغلې وي، نو په داسې حال کې د څېړونکي او ایډېټر دنده دا ده، چې ترتیب یې منظم او د څېړنې له ارونو سره سم چمتو کړي. د ساري په ډول په متن کې یو شمېر اصطلاحګانې راغلې وي؛ خو یا نه وي توضیح شوي او یا هم په لمنلیک کې نه وي، همدا شان د نورو لیکنو ذکر شوې وي؛ خو نه په الفبایي سیستم او نه هم په کرونولوژیک ډول یا هم فهرستونه معرفي شوي وي؛ خو ګډوډ یعنې نه سم موضوعي وي او نه هم سم الفبایي، لکه زما د ماسترۍ تیزس، چې د زېري جریدې لس کلن الفبایي فهرست و؛ خو د کابل پوهنتون را باندې ګډوډ کړ نه یې الفبایي ته پرېښود او نه یې هم موضوعي ته دواړه نومونه یې رابانديې په کې ځای پر ځای کړل، په داسې حال کې چې په دې نزاکتونو او توپیرونو ښه خبر وم؛ خو...؟!!!

د سمون یا ایډېټ په اړه مو په نورو بحثونو کې ډېرې خبرې وکړې، اوس هڅه کوو، چې په یو متن کې د ژبني ایډېټ په اړه خبرې وکړو او دا معلومه کړو، چې په یو متن کې ژبنی ایډېټ څومره اړین دی.

د ژبني ایډېټ دنده دا ده، چې د لیکوالۍ تېروتنې، له معیاري ژبې څخه وتل یا په کې ناغېړي کول، د یو متن په روانوالي او ساده والي کې ستونزمنې او کونګې خبرې، د ناڅرګندو او رکیکو تعبیرونو لرې کول، سبکي ناغېړۍ او ستونزې په جدي توګه په پام کې ونیسي او موخه یې دا ده، چې په لومړي ګام کې همدغه ډول تېروتنې سمې کړي.

ژبڅېړونکي وايي په ژبني سمون کې یو شمېر داسې برید پولې هم شته، چې د کره کتنې په برخه کې تر لوړې پوړۍ پورې رسېږي، چې ایډېټر په کې عاجز وي؛ خو نوموړي ته په کار ده دا خبره په ذهن کې ولري، چې یاده لیکنه د ده نه؛ بلکې د لیکوال په نامه خپرېږي او نوموړی یې یوازې سمونکی یا ایډېټر دی، ځکه د دواړو نامه ته خیال کول په کار دي.

تطبیق لپاره کار په فارسي کې ځکه اسان و چې په فارسي کې خج همېشه د کلمې پر اخري سېلاب لوېږي. یعنې د خج موجودیت او نه موجودیت د کلمې په معنا کې بدلون نه راولي. مثلاً په ((شکست)) کې خج پر ((ست)) باندې راځي. مګر په پښتو کې که موږ وایو ((غوټه)) (ګره) او ((غوټه)) (په اوبو کې د ننه تلل) دلته په ((غوټه (ګره))) کې خج پر ((غو)) یعنې پر اوله څپه راځي او په ((غوټه)) کې خج پر ((ټه)) راځي دلته د کلمې معنا بدلېږي.

غضنفر: ګوره! په فارسي کې تاسو ویل ((شکست)) دا اسم دی؛ خو که خج یې په سر کې راولو ((شکست)) دا بیا فعل شو. د معنا فرق خو راغی.

منلی: په خپله په معنا کې فرق نه راولي، د معنا په تاکید کې فرق راولي، یعنې هغومره اهمیت چې په پښتو کې یې لري په فارسي کې یې نه لري؛ مګر بیا هم فارسي اریایي ژبه ده طبعاً خج په کې یو څه نقش لري. کله چې فارسي عروض جوړ شو دغه شی له نظره وغورځول شو او د سېلابونو اوږدوالی او لنډوالی په نظر کې ونیول شو، مګر ځینې سېلابونه چې ډېر ضرور دي او فارسي ژبه له هغو خلاصی نه لري په خپله لنډ سېلابونه دي مګر د شعري ضرورتونو پر اساس په هغه ځای کې باید اوږد سېلاب راشي؛ نو یو تعداد سېلابونو ته یې هم لنډ او هم اوږد ویلي دي. مثلاً ((که)) کله لنډ دی کله اوږد دی. د دري اوزان دي چې په لنډوالي یا اوږدوالي اندازه کېږي مثلاً:

دوش میامد و رخساره برافروخته بود

دلته ((دو)) یو سېلاب شو، اوږد سېلاب دی. ورپسې ((ش)) سېلاب نه دی مګر د دې لپاره چې له دې څخه یو لنډ سېلاب جوړ شي، عروضیانو په کې یو تخیلي واول ورزیات کړی دی. ((دوشو میامد)) دلته دا ((شو)) چې یې ورزیات کړی له دې څخه یې لنډ سېلاب جوړ کړی دی. یعنې دا هغه تصرفات دي چې دري ژبو عروضیانو د عربي په عروضو کې کړي دي.

پښتو وزن سېلابوتونیک دی. په بحرونو باندې نه جوړېږي لکه خوشال بابا چې ویلي دي:

پښتو ژبه ده مشکله د دې بحر مونده نشي
هم ماوته یو څو بحره په ډېر منښود راغلي

خوشال بابا ته بحرونه نه دي ورغلي. خوشال بابا یو څو شعرونه عروضي اوزانو ته نژدې کړي دي. دولت لواني ځینې شعرونه عربي اوزانو ته نژدي کړي دي مګر عروضي اوزان یې په مطلق ډول نه دي تطبیق

غضنفر: استاد منلی! دغه خبره پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار هم کړې ده چې په څلورو څپو کې پر یوه څپه خج راځي او دا د پښتو شعر د وزن د مالومولو بنیاد دی. خو ما، چې د ډاکټر زیار هغه کتاب لوست، یوې بلې نتیجې ته ورسېدم. یو لوستونکی کولای شي چې هغه فشار له یوه ځایه بل ځای ته منتقل کړي. یانې په دې شکل کیلي چا ته په لاس نه ورکول کېږي.

منلی: که لوستونکی فشار له یوه ځایه بل ځای ته انتقالوي، هغه په شعر کې سکته ګي راولي او په کې یو ډول مصنوعي نقص ایجادوي. هغه روان شعر نه دی. زموږ په ولسي شاعرۍ کې کله کله داسې کېږي چې د کلمې خج له یوه ځایه بل ځای ته انتقال شي. مګر هغه په غوږ بد لګي، هغه د ژبې کلمه نه ده، د ژبې له اصولو سره برابره نه ده. نو لکه په فارسي کې چې وزن غلط راځي په پښتو کې هم وزن غلط راتلای شي. دا بیخي په دقیق ډول یوه وسیله سړي ته په لاس ورکوي چې درې بې خجه او یوه خج لرونکې څپه یوه کړۍ جوړوي.

یو بل ډول وزن هم په پښتو کې شته چې له درې څپه یي کړۍ څخه جوړ دی. په هغه کې بیا همېشه پر درېیمه څپه باندې خج راځي. مثلاً:

چې مین کړم نصیب زه په تا باندې
لیوني شومه سر په سارا باندې

غضنفر: دغه پر عروضو برابر وزن نه دی؟

منلی: دا په عروضو برابر وزن نه دی، د پښتو یو ډېر اصیل وزن دی او یوازې د پښتو په یو ډول غزل، په ولسي غزل کې استعمالېږي. درې څپه یي وزن دی. نور اوزان څلور څپه یي دي. په لنډیو کې مثلاً خج پر څلورمه، پنځمه او نهمه څپه باندې راځي. یا مثلاً هغسې شی چې زموږ عوام شاعران یا عوام هنرمندان ورته رباعي وايي. رباعي په حقیقت کې غزل ته وايي، هغه غزل چې د رحمان بابا غزل ته ورته دی. د هغې خصوصیت دا دی چې په کې درې څلور څپه یي کړۍ دي چې خج پر درېیمه کړۍ باندې راځي.

غضنفر: استاد منلی! د رحمان بابا دیوان معمولاً دولس څپه یي مسرې لري؛ خو کله ګورې چې یوه مسره یولس څپې ده، بله دولس څپې او وزن یې برابر دی. دلته بیا سړي ته شک لوېږي چې ایا دغه د څپو معیار چې موږ ټاکلی دی دقیق دی که نه دی؟

منلی: دا یوه ډېره طبیعي خبره ده کله چې د وزن اساس هم د څپو شمېر او هم خج شو، که چېرې په مسره کې وروستۍ څپه خج لرونکې وه، په هغه

تاسو وویل چې عروض له عربي راغلي نو د عربي وزن او د فارسي وزن باید سره بېل وي ځکه چې فارسي خو هندواروپایي ژبه ده. نو ایا فارسي کې چې له عروضو استفاده کېږي طبیعي ده؟

منلی: ډېره طبیعي نه ده مګر لکه مخکې چې مې عرض وکړ، په دې کې یو لړ تعدیلونه راغلي دي، چې ژبه یې ورسره یو څه اړولې ده او که تاسې د دري کلاسیک ادبیات د دري له ولسي ادبیاتو سره مقایسه کړئ بیا هم په وزن کې فرق راځي. د دري دوبیتي ګانې همېشه په عروضو برابرې نه راځي، ډېرې کمې برابرې راځي. علت یې دا دی چې دلته پر عروضو باندې ډېر فشار نه دی اچول شوی او له بل لوري لکه مخکې چې مې عرض وکړ، د دري عروضپوهانو یو لړ کلمو لپاره بېل اصول ټاکلي دي. دغه بېل اصول ټاکل، دغه استثنا ګانې چې دوی ټاکلي دي د دې یو علت هم دا دی چې دوی غواړي دا په هغه قالب کې ورواچوي. دغه کار په پښتو کې هم شوی دی. په ۱۸ پېړۍ کې د میا شرف له خوا د پښتو عروضو په اړه کتاب لیکل شوی دی؛ مګر دغه کتاب هېڅکله په پښتنو کې نه دی خور شوی؛ ځکه چې دا عروض په پښتو کې بیخي مصنوعي حیثیت لري.

غضنفر: استاد منلی! وروستۍ پوښتنه به د اروپایي ژبو د شعرونو د وزن په اړه وکړو. ویل کېږي چې په فرانسوي او انګریزي ژبو کې هم وزن په څپو اندازه کېږي. هغه اندازه چې هلته ده پښتو ته ورته ده که بیخي بېله ده؟

منلی: د فرانسوي ژبې وزن یوازې سېلابیک وزن دی. هلته هم خج پر وروستۍ څپه لوېږي؛ نو کله کله تر وروستۍ څپې چې بې خجه څپه راشي هغه په وزن کې نه حسابېږي.

غضنفر: تاسو وویل چې هلته هم خج پر وروستۍ څپه لوېږي یعنې خامخا د کړۍ په دې څلورو څپو کې پر څلورمه لوېږي؟

منلی: نه، د کلمې پر وروستۍ څپه لوېږي لکه په دري کې.

غضنفر: نو بیا خو د هغوی شعر په عروضو باندې هم تلل کېدای شي؛ ځکه چې د خج ځای یې معلوم شو.

منلی: عروض د هغوی لپاره معنا نه لري. یعنې هغه اوږده او لنډه څپه نشته، مګر په انګریزي ادب کې بیا هم سېلابوتونیک وزن دی یعنې چې هم خج او هم سېلاب په نظر کې نیول کېږي په لاتیني وزن کې بیا اوږده او لنډه څپه مطرح ده لکه په عربي کې؛ نو د هرې ژبې له خصوصیاتو سره یو څه تغییر کوي.

# په نکلونو کې د ناموس...

نوم کړې وه؛ خو د درخانۍ له پلار سره یې یو څه زړه بداوی پیدا شو د هغې له قصده یې د بایزید خان لور توتیا چې په بنګلا او پوهه کې له درخانۍ نه کمه نه وه آدم خان ته وروغوښته له څو ورځو او هفتو نه وروسته بایزیدخان له دې کیسې نه خبر شو چې آدم خان ته یې په کوچنیوالي کې درخانۍ په نوم کړې وه او هم له درخانۍ سره آدم خان ژوره مینه لري که زه پر بن توتیا ورکړم د هغې ژوند به ورسره بد وي او هغه به په کور کې د درخانۍ مزدوره وي نو زه پر بن خپله لور نه ورکوم حسن خان ته یې ځواب ورولېږه زه د خپلې لور ژوند نه خرابوم او هغه پر بن نه ورکوم حسن خان ته یې څرګنده کړه چې تا له ما سره ټګي وکړه.

آدم خان له دې سره، چې د توتیا له واده کولو سره سخت مخالف و او له پلار سره یې په دې خبره غالمغال وکړ، چې ولې دې په خپل سر لاس ورته واړاوه. خو کله یې چې د بایزید خان منفي ځواب واورېد آدم خان ته اسمان او ځمکې ځای نه ورکاوه دا څنګه خبره ده چې توتیا زما په نوم ده او اوس یې نه راکوي زه به په بنیر کې څنګه ګرځم خلک به څه راته وایي. د دې خبرې د حل یوازینۍ لار داده چې یا به توتیا په خوښه راکوي او که داسې نه وي هغه به په زور راولم او یا به سر پر ناموس ږدم او په دې کې بله خبره نه ځایږي.

په پښتنو کې د اسلامي شریعت پر اساس تر څلورو پورې یو سړی ودونه کولی شي او زیاتره شتمن خلک تر څلورو پورې مېرمنې لري. په څنګ پولې پورې هڅه کوي چې د نورو د احسان او منت لاندې رانه شي خپلې اړتیاوې په خپله پوره کړي کله چې د ناموس د ګټلو خبره په منځ کې شي په داسې حالاتو کې د یو پښتون لپاره ډېره سخته برېښي، چې د ده ناموس بل څوک ورته وګټي او دا تر بې ناموسۍ هم ورته سخته ده او د ځان لپاره یې ستره بې ننګي ګڼي او دا روحیه موږ په پښتو نکلونو کې ښه لیدای شو د ساري په توګه تاسو د علي محمد منګل آدم خان درخانۍ (۳۲ر ۵۸) او ګوربزو نکلونه (۲۹ر ۱۹۰) وګورئ.

کله چې میروګۍ د ترینې د راوړلو په باره کې د آدم خان د مجروم آس او سرې تورې غوښتنه کوي آدم خان ورته وایي: ته تنکی ځوان یې له تورې او جنګ سره بلد نه یې ته همدلته اوسه زه به ترینه درته راولم. میروګۍ په خندا سره ورته وایي:

((لکه چې زه ستا تر پام پښتون نه درځم یوسفزی مې نه بولې په دا لرې او نږدې خلکو، یوسفزیو او ټولو پښتنو کې به دا نکل پاتې شي چې میروګۍ پرې مین وآدم خان پرې مړ شو دا پیغور هیڅکله ځانله نه پرېږدم. (۳۲ر ۸۶)

په پښتنو کې له پردۍ نجلۍ او مېرمنې سره مینه لرل داسې یو منفي عمل ګڼي چې جزا یې په سره توره وژل دي او بیا د مېړوښې ښځې تښتول تر هغې هم ډېر بد عمل دی چې هېڅ پښتون یې نشي زغملی؛ خو په دې ځای کې دآدم خان او میروګۍ په نکل کې د میروګۍ له خوا د ترینې په رڼا ورځ او سپین ډګر تښتول د ده د زړه ورتوب په سبب د درناوي وړ بولي.

خطر کې دی. د میروګۍ نوره حوصله تنګه شوه د دوی ترمنځ داسې سوال او ځواب پیل شو او له دې نه موږ د میروګۍ د اتلوالۍ موقف ځانله معلومولی شو او هم دا په ګوته کېږي چې د دې نکل اتل په خپله مینه کې څومره زړه ور، ډاړمن او بیباکه دی او دلته د ترینې او میروګۍ تر منځ سوال او ځواب راوړم.

ترینه چې له ویرې نه د ونو د پاڼو غوندې رپېدې میروګۍ ته داسې نارې وهي:

که خبرنه وې خبر شه
که خبرنه وې خبر شه میروګله وای وای
د سهار چرګان آذان کا
د سهار چرګان آذان کا میروګله وای وای
د سهار چرګان آذان کا
د سهار چرګان آذان کا سبا کېږي وای وای
تورو غرو ته مخه وکه
تورو غروته مخه وکه میروګله وای وای

میروګۍ په ځواب کې په ډېرې بیباکۍ سره داسې نارې ورته وهي:

خندنۍ خبرې مه که
خندنۍ خبرې مه که ترینې وای وای
میروګۍ ورکۍ غل نه دی
میروګۍ ورکۍ غل نه دی چې غلې که وای وای
میروګل خو د ډګرې
میروګل خود ډګري برمتې که وای وای

ترینه چې د ونو د پاڼو غوندې رپېدیده په ځواب کې داسې نارې ورته وهي:

نه که غږ د شکرام در باندې وشو
نه که غږ د شکرام دربانډې وشو وای وای

د ترینې نامزد د ګوربزو په نکلونو کې سرورخان د پکتیا نکلونو په دریېم ټوک کې شکرام او د منګل په آدم او درخانۍ کې سرورخان راغلی دی.

میروګله ته خوب توپ کړې
مروګله ته خوب توپ کې ما به پرېږدې وای وای

# تنسیق...

راوړل په پوره رنګینۍ سره تر سترګو کېږي، چې هره لنډۍ یې په رنګینۍ جلوې سره رانغښې ده.

**تجاهل عارف «عارفانه تجاهل»:**

چې یو شاعر یا ناثر یا یو لیکوال په لوی لاس ځان ناخبره واچوي؛ نو دې ښایست او صنعت ته تجاهل عارف وایه شي.

ځینو نورو پښتو ادب پوهانو یې داسې تعریف وړاندې کړی دی:

یوه معلومه خبره وې؛ خو کلام کې د څه لطافت او نزاکت پیداکولو لپاره یې په داسې طریقه ذکر کړې، لکه چې ورته نه وې معلومه. دا استفهام او ځان ناخبره اچول د تعجب لپاره کوي او که نه هغه شي ښه ورته معلوم هم وي، د مثال په توګه دا لاندې لنډۍ وګورئ:

بادخوتن دي را الوتې
که عنبري زلفې جانان سنبالوینه
یا له اټکه زانې راغلې
یا په ټولي دې ښایستو ولګیدمه
یاد خوتن د مشکو بوی دی
یادې دعطرو په چینه لمبلې دینه
یاد خوتن بادرا الوتې
یاعنبري زلفې لیلی سپړلې دینه
یادجانان دمخ رڼا ده
یا په اسمان کې مشتري رڼا کوینه
یاخوزما په سترګوګرد دی
یادې منګلو په غروتال دې خړ ګردونه

په دغو پنځه زړه پورې ټپو کې شاعر ښه پوه دی، خو د دې لپاره، چې له موضوع دیوې موخې د لاس ته راوړلو لپاره ځان ناخبره اچوي، په لنډیو کې د دې صنعت بېلګې خورا ډېرې تر سترګو کېږي، چې موږ یې دا څو مثالونه دلې وړاندې کړل، په هره مسرۍ کې د دې صنعت پلوشې سترګې برېښولې او زړه په دردنګ راوستلی شي، د دې لپاره چې په مطلب پوره پوه شو، یوازې به دلومړۍ لنډۍ په اړه څه څرګندونه وکړو.

مین پوه دی، چې حسینه شهوېې عنبري زلفې، چې خوشبویې یې لټېږي جوړوي، خو ده ځان ناخبره کړې، لکه چې د ختن نه د مشکو باد راچلېږي.

**مراجعه یا سوال ځواب:**

چې شاعر په یوه مصرع یا بیت یا بند کې سوال ووایي او په بل کې ځواب نو مراجعه یا سوال او ځواب ورته وایه شي.

لکه دا پښتو لنډۍ:

په سپینه خوله مې دې پرار وکې
زه په بخیلې مور ته څه ځواب کومه
مور ته دې داسې ځواب وایه
زه له منګې سره ګودر کې ولویدمه

په دغو ټپیکو کې لومړۍ مسرۍ سوال او دویمه یې ځواب دی، چې په رنګینۍ ادبي ادا سره راځلېدلې دی.

مور مې داسې راته وایي
منګۍ دې روغ په خوله دې راوړل پرهارونه
بیا دې مورکۍ ځواب دې دا دی
منګۍ په ختې زه په زغه ولګیدمه
چې مورکۍ ځواب دې جوړ کې
په دې ملاله خوله مې کنبکاره غابنونه

په دغو دوو مسریو کې هم د لومړیو دوو ټپو په څېر په لومړۍ کې سوال او په دویمه کې یې په جوته ځواب لیدل کېږي.

**یا:**

زړه مې له سترګو ګیله من شو
چې دیدن ته کړې عبث غم زه تېرومه
سترګو له واره ځواب ورکړ
چې مین ته یې اوبنکې بیا زه تویومه

دغه دوې رنګینې لنډۍ هم په پورته ډول په لومړۍ ټپه کې سوال او په دویمه کې یې ځواب راغلی دی.

نو زړه قاضي شو وېش یې وکړ
د مینې غم دی په تقسیم به یې ګالونه
سترګو دزړه په رنځ اخته کړم
تر ژوندانه به مې روغ نشي پرهارونه

کې دا هم ورسره شته چې د نجلۍ مور او پلار په اسانۍ سره دې ته نه راضي کېږي چې خپله خور او لور پر بن ورکړي.

اوس دواړه په دې کشاله کې راښکېل دي یو یې پر بن لور نه ورکوي او بل وایي دا زما ناموس دی او زه څنګه له خپل ناموس نه تېر شم له ناموس نه تېرېدنه په مرګ حساب ده. په پښتو کې د دې کشالې د حل لپاره دوه لارې موجودې دي لومړۍ دا چې درېیمګړی او مرکه په منځ کې شي دا دنګله حل کړي او که درېیمګړو او مرکې دا دنګله حل نه کړه بله د زور او جنګ لاره ده چې چاته خدای ورکړه.

آدم خان د زور او جنګ لاره ښه وګڼله خپل پهلوانان یې له ځانه سره کړل په تیاره شپه کې د هغه پر کور حمله ور وړه او توتیایې په زور ورنه راوسته.

کله چې سهار بایزیدخان د آدم خان له دې عمل نه خبر شو بایزیدخان د پښتو د پرځای کولو لپاره مجبور دی ورته عمل له آدم خان سره وکړي چې هم توتیا او هم کومه بله تور سرې د دوی له کور نه راولي او که نه بایزیدخان په قوم او ولس کې نور په جګو سترګو ګرځېدو حق له لاسه ورکوي.

ګهیځ وختي آدم خان د جنجال د حل کولو لپاره باید دی په ننواتې د بایزیدخان کره ورغلی وای خو آدم خان په دې کار کې سستي وکړه او بایزیدخان په رڼا ورځ پر دوی برید ښخ کړ له دواړو خواوو نه څو تنه مړه او ټپیان شول.

د آدم خان پلار حسن خان د کشالې د دایمي کولو له ویرې نه مجبور شو د شپې له خوا د بازیدخان کره په ننواتې ورغی هغې ننواتې ومنله او بدي ختمه شوه.

د پښتنو د کلتور او فولکلور ارزښت په دې کې نغښتی، چې یو پښتون تر هغه ځایه چې زور یې رسېږي د مرګ تر

میروګی د آدم خان او درخانۍ په نکل کې یو هیرو دی او آدم خان په میروګي آدم خان دی دا خبره په پکتیا کې ډېره مشهوره ده او یو متل ګرځېدلی دی او وایي: ((تورې میروګی وهي نوم د آدم خان ځي)). آدم خان ټول بریالیتوبونه د میروګي او د ده ورور بلوګي په زور او توره لاس ته راوړي، په نکل کې دا خبره څرګنده ده چې آدم خان او میروګی د پښتنو د دود او دستور پر خلاف ودونه کړي دي. آدم خان خپله نامزد توتیا مخکې له دې چې د پښتنو له دود او دستور سره یې سمه راواده کړي د بایزیدخان له کور نه په زوره راوسته چې له دواړو خواو څخه څو تنه مړه او ټپیان شول. ترینه د سرورخان په نامه وه میروګي د ناوې په کالیو او ګاڼه کې ورڅخه راوتښتوله.

نکل داسې دی کله چې میروګي او ترینه د واده په اخري شپه سره یو ځای شول، دوی په مینه کې سره ډوب تلي و چې شپه له نیمایي نه واوښته ترینې میروګي ته وویل شپه تېره شوه د سهار چرګانو آذانونه پیل کړل. ترینې میروګي ته په زاریو پیل وکړ چې ولې سستي کوې سرورخان چې راخبر شي دواړه به ژوندي تورو خاورو لاندې کړي او یا به مو ژوندي اور ته واچوي. میروګی د ترینې خبرې داسې تېروي چې ګواکې ماستا خبرې نه دي اورېدلي ترینه زارۍ کوي او د تېښتې هیله څرګندوي خو میروګی د مینې او محبت خبرې اترې کوي ترڅو د آسمان لمنې په سر کشوې او درګرده ملایان آذانونه کوي چې په دې وخت کې د ترینې حوصله نوره تنګه شوه او په میروګي یې د منګولو او غاښو لګولو شروع وکړه او دا ورته وایي ته نه پوهېږې چې زما او ستا ژوند بېخي په

میروګی ته د ترینې دې تریخ پیغور ډېر سخت زور ورکړ او سره وترېده په ځواب کې داسې نارې ورته وهي:

که شپېته زره یوسفزي وای
په شپېته زره یوسفزي مې نظر تېر دی وای وای

میروګي ترینې ته وویل: ته هسې خوشې ځان مه په عذابوه زه دې په غلا کورته نه وړم او دا د بې ننګۍ پیغور چې میروګي لکه غله غوندې ترینه په تکه توره شپه کې وتښتوله ځان او خپلو لمسیو او کړسیو ته نه پرېږدم. په سپینه ورځ او د سرورخان له خبرتیا نه وروسته دې بیایم چې خدای هر چاته ورکړه.

## پښتو غزل ددوه زره...

احسان الله درمل که څه هم شاعري لږه کوي خو ښه یې کوي په ټول یې پوره کوي د شعر لفظي ښکلاو ته پام کوي او په همدې ریاضت هم کوي دا چې ښاغلي درمل همدې خوا ته ډېره پاملرنه کړې ده او په دې برخه کې د خپل معاصر شعر نه استفاده کوي او یا هم د خپل کلاسیکي شاعرانو نه جایزه ګټه اخلي کله کله پرې داسې ګومان کېږي لکه یو ترکاڼ چې په زوړ لرګي کې نوي نوي ګلان جوړوي او زړې کړکۍ یا الماری ته نوې بڼه ورکوي چې دا یې له خپل کلاسیکیت کلاسیکیت سره د ذهني تړون یوه غمازي ده او د خپل کلاسیکي رنګ د پالولو شوق لري چې همدا سوچ به یې د خپل شعري روایت امین کړي.

داسې هم نه ده چې ګوندې موږ دې په دې لسیزه لسیزه کې بې شماره د غزل شاعران ولرو یا دې هغومره شمار کې زلمي ولرو چې له ټولو دې دغزل د راتلونکي په اړه توقعات ولرو ما چې کوم شاعران دلته یاد کړل زه د دوی په شعرونو کې داسې نښې نښانې وینم چې د دې زیات امکان دی چې د غزل د میدان یو څو نومونه به شي خو بیا هم دا د دوی د هڅې د ریاضت او شعر ته یه [redacted] صورت کې

## داستاد ګوربز...

افغاني په ځانګړي توګه پښتني ټولنه کې سور کفر ښکاري، خو ده ورته په شعوري توګه د اورېدلو جواز ورکړی و او د خپلې خبرې لپاره یې په کوټو کوټو لاسوندونه هم لرل.

د استاد د کیسو په اورېدلو مې له نوموړي سره کرار کرار له زړه نه فرهنګي مینه پیدا شوه او دغه مینه دومره اوج ته ورسېده، چې لیدل یې راته فرض شول. د جګړې کلونه ول او هر څوک له خپلو سیمو څخه وکوچېدل، موږ هم له یوې سیمې بلې سیمې ته لاړو او هلته مو د اکاډمۍ له یو شمېر فرهنګیانو سره ناسته ولاړه شوه، یوه ورځ یو څوک زموږ خوا ته راغی او زموږ له ډلې څخه یې له ښاغلي سرمحقق سیدامین مجاهد سره په څه خبره بحث وکړ او خپلې پوښتنې یې حل کړې، خو د ستونزې له اوارې سره سم بېرته په خپله مخه روان شو او ښایي نورې ناستې ته یې وخت نه درلود، په دې کې مجاهد وویل، چې دا سړی میراحمد ګوربز و، بس یوه ورکه مې بیامونده خو، له بده مرغه همداسې ورکه پاتې شوه، ځکه نه مو سره څه وویل او نه مو یو د بل خبرې واورېدې، اوس نو د لیدلو تلوسه یې نوره هم زیاته شوه او مینې یې نور هم په زړه کې ځای ونیو، ځکه دومره مینه ناک او خواږه خلک لږ پیدا کېږي، خو خبره له خبرې تېره وه. جګړو زور واخیست او هر چا خپله مخه ونیوه، له موږ نه هم کابل پاتې شو او ډېر وخت مو په یو او بل ځای کې د ژوند ناخوالې وزغملې اخر دا چې بېرته هېواد ته د راستنېدلې موقع برابره شوه او بیا مو خبره تر پوهنتون ورسېده، له ډېر کړاو وروسته مې اکاډمۍ ته لار پیدا کړه او دا نو زما ایډیال ځای و، له یوې خوا دې ته خوشحاله وم، چې یو څه به په کې زده کړم او له بلې خوا مې زړه دې ته تخنېده، چې ډېرې ادبي او فرهنګي ستڼې به په کې وګورم او ورسره به اشنا شم، بس همدا وخت و، چې له یو یو سره اشنا کېدم او په دې منځ کې له استاد ګوربز سره مې هم د ملګرتیا مراندې وغځېدې، کله ناکله به مو د ارواښاد عبدالرحیم ځدراڼ له خبرو هم فیض اخیست؛ خو ښایي د هغه شتون به هم نور الله ته منظور نه و؛ نو یې راڅخه مېلمه کړ او دا دی دا څو کاله مو له استاد ګوربز سره ډېرې خبرې او خاطرې تبادله کړې، ډېر څه مو ترې زده کړل او ډېر څه یې را وښوول، ښېګڼه

یې دا وه، چې ډېر پاک زړی او ساده مسلمان و، هېڅ خبره یې په پرده کې نه پرېښوده آن د خپلې استادۍ د مهال داسې کیسې هم پر استادانو او همکارانو لورولې، چې موږ به ورته له خندا بړوڼدي کلک نیولي ول، خو ده د خپل اخلاص او سوچه مسلمانۍ له وجې دا هر څه ویل. بس یو عجیبه انسان و، څه یې چې زده ول له چا یې نه درېغول او څه یې، چې هېر شوي ول په لټه یې و، په هر حالت او هر عمر کې ورته زده کړه عیب نه برېښېد، خو نه پوهېدل یې بد ګڼل. سره له دې، چې ناروغۍ له ستوني نیولی و خو ده د مېړانې همت له لاسه نه و ورکړی او منظم به دندې ته راته، ان تر دې، چې تر هنده یې هم سر ووت، خو بیا هم د پخوا په څېر یې په وجود کې سپکوالی نه انګېره، په لړزېدلي لاس او نیولي ستوني به یې هم د سپینې پاڼې پر تنده قلم سیخاوه او هڅه به یې کوله، چې څه پرې ولیکي، خو ناروغۍ به مجال ور نه کړ او خبره به ترې همداسې مشوره شوه. سره له دې، چې ډېر نیولی او له ژونده ستړی ستومانه و خو بیا یې هم د پکتیا نکلونو درېیم ټوک، چې د ځاځیو قوم ته ځانګړی شوی تر چاپه ورساوه او په ډېرې خوشحالۍ یې خپلو ملګرو مخې ته کېښود؛ خو ای کاش چې دغو ملګرو یې د ده پر ژوند دا لس واړه نکلونه ور چاپ کړي وای، چې ده په ژوندوني د خپل کار او زحمت ثمره لیدلې وای.

هماغه د بابا خبره ده، چې شیرین عمر په درېغ درېغ تېرېږي او د اوبو په څېر بهېږي؛ خو درناوي او کار ته یې د قدر څوک نه وي.

بس هله د سړي زړه تېږه، له کاره یې زړه تور او ترک د دنیا شي، چې د خپلو همکارانو بې قدري او ... ویني، هغه ټولنه، چې معنویت ورته د توت قدرې ارزښت هم ونه لري او په مادیاتو پسې اسمان ته پورۍ کېږدي، په هغې کې به کتاب، لیکوالي، د ټولنې له ناخوالو څخه پرده پورته کول او پرې کلکه نیوکه کول، ځان د مرګ کومې ته اچول او غل معرفي کول به څه ارزښت ولري او څوک به ورته زړه ښه کړي. په داسې ټولنه کې به څه سمون راشي او داسې ټولنه به د چا ایډیال وي، ځکه چې فکرونه هم په همداسې محدوده کې ښکېل او ځوانان مو هم د بل په فرهنګ پسې روان وي، نو ...؟

بس استاده! خېرنپوه صاحب، ستا په وینا پوهاند صاحب او بالاخره ای د ټولنې سترګې، فکر او ایډیاله الله دې ستا د همدغه کړې معنوي کار له امله د جنت سردار او سالار کړه، امین ثم امین.

# نیولوګېزم

څېړنوال مولاجان تنیوال

مخکې له دې، چې د نیولوګېزم پر اهمیت او اړتیا لنډې خبرې وکړو ښه به وي، چې د دې اصطلاح په باره کې یو څه ووایو.

د نیولوګېزم اصطلاح په یوناني ژبې پورې اړه لري او د دوو ویپیونو له ترکیب څخه منځته راغلې ده، لومړۍ برخه یې د Neos ویی دی، چې د نوی معنا لري. دویمه برخه یې د Logos ویی دی، چې د ویي «لغت» معنا لري. د همدې اصطلاح بله معنا نوی ایجاد، منځته راوړنه یا پیدایښت هم ده[1].

په یو سیند کې د نیولوګېزم په باره کې لیکل شوې دي، چې: نوې جوړونه، نوی، اکثراً په مصنوي ډول نوې ویي جوړونه[1].

په همدې ډول په یو بل سیند کې هم د نیولوګېزم په باره کې خبرې شوې دي او په یوه ځنډه کې یې ویل شوي دي، چې: نیولوګېزم ژبنۍ نوې جوړونې ته وایي[1].

همدارنګه د ژبپوهنې په یو سیند کې د نیولوګېزم د اصطلاح په باب لیکل شوي دي، چې: نیولوګېزم ته نوی ویی هم وایي، د دې څرګندونې د ښه وضاحت په باره کې دا هم په کې ویل شوي دي، چې: په یو مشخص وخت کې نوي جوړ شوي ویي ته نیولوګېزم وایي د ساري په ډول په جرمني ژبه کې د Neubauer ویی داسې یو ویی دی، چې د ځمکو د اصلاحاتو له وخت سره تړاو لري. زموږ د هېواد په ژبو کې هم ډېر داسې ویپیونه پیدا کولای شو، چې له یو مشخص وخت سره ډېره لګوي.

په دغه سیند کې د نیولوګېزمونو د منځته راتګ په باره کې ویل شوي دي، چې دا ډول ویپیونه اکثراً د ویي جوړونې په معمولو طریقو سره چې وروسته به یې یادونه وشي مخې ته راځي.

موږ هم د هغې اړتیا له مخې، چې په بشري ژوند کې د تحولاتو د پېښېدو په وجه په ژبه کې محسوسه کېږي د نویو ویپیونو په جوړونې باندې خبرې کوو او کوښښ به وکړو ترڅو دا څرګنده کړو، چې په ژبه کې شته ویپیونه په یوازې ځان «له بدلون څخه پرته» د دې توان او ظرفیت لري، چې د انساني ژوند د تحولاتو د اوږدې لړۍ ټولې نیمګړتیاوې وښیي او غوښتنو ته یې ځواب ووایي او هغه څه، چې د انسانانو د کار او فعالیت په پایله کې نوي منځته راځي نورو ته معرفي او ځانګړتیاوې یې ښودلای شي او که نه؟

دا یوه واضحه او څرګنده خبره ده، چې د یوې ژبې ویي پانګه هېڅکله هم د دې توان نه لري، چې د نیولوګېزمونو له مرستې څخه پرته نوې تولید شوې شیان وسایل، الات او ابزار ونوموي په همدې علت نشو کولای، چې د نیولوګېزم له اهمیت او ارزښت څخه سترګې پټې کړو، ښه دا ده، چې په ورین تندي او ویالـه تنده هر کلی ورته ووایو.

### د نیولوګېزمونو د منځته راتلو لارې:

د پوهانو د څېړنو په وسیله لاندې طریقې د نیولوګېزمونو د جوړولو لپاره په نښه شوې دي:

✓ د ترکیب په وسیله: په دې ډول جوړونه کې نوی ویی د نورو ویپیونو د ترکیب په وسیله منځته را درومي ترڅو هغه څه افاده کړي، چې د یوې ژبې ویونکي او کارونکي اړتیا ورته لري. غربیان د ویپیونو دې ډول جوړونې ته د Komposition اصطلاح کاروي، دغه اصطلاح له اره په لاتین ژبې پورې اړه لري.

✓ د اشتقاق په وسیله: په دې پړاو کې له نورو ویپیونو څخه نوي ویپیونه منځته راځي او په وړ او مناسبو ځایونو کې کارول کېږي، په جرمني ژبه کې دا ډول کړنه د Ableitung په نوم یادوي. دې ته مو هم باید پام وي، چې د نیولوګېزمونو په جوړولو کې له هماغه لومړنیو منځته راغلیو ویپیونو یا لغتونو څخه هم ګټه اخیستل کېږي، خو په دې اړه دا ویل شوي دي، چې د دې ډول ویپیونو د کارونې کچه ټیټه ده، په دې لړۍ کې چې کچه یې کمه ده د اوازونو د پېښې «تقلید» په وسیله د نویو ویپیونو منځته راتلل هم شامل دي. چې ډېره ښه بېلګه یې د Toefftoeff ویی دی، چې د موټرسایکل په معنا کارول کېږي« زموږ د سیمي خلکو به ټوپ ټوپیني، د خوست د مرکز اړوندې سیمې او سپدونکو به ټپ ټوپی او د ګوربزو د سیمې او سېدونکو به ټپ ټپی باله. اوس هم دا ویی په ټیټه کچه کارېږي، خو ټول خلک پرې پوهېږي، مګر په ځوان نسل کې د موټرسایکل ویی

عمومیت لري».

په همدې ډول د نیولوګېزمونو د جوړېدو او رامنځته کېدو یوه لاره له نورو ژبو څخه د ویپیونو پورول یا Entlehnung دی، لکه د انوراک Anorak ویی، چې په اصل کې د اېسکیمویانو د ژبې ویی دی او نورو ژبو ورڅخه اخیستی دی[1].

په همدې ډول یو شمېر پوهان په دې اند دي، چې پورژباړه هم په نیولوګېزمونو کې راځي، لکه پوهنتون د دارالفنون، دارالعلوم او دانشګاه یوه پورژباړه ده او د پښتو ژبې له قاعدې سره سمه د «پوهنه او تون» څخه جوړه شوې ده[1].

همدا شان ژبپوهان دا هم وایي، چې پردي یا پور ویپیونه د ژبنۍ پانګې څلورمه ډله ویپیونه دي، چې له نورو ژبو څخه په پور اخیستل کېږي په دې ډول چې که په هماغه اصلي بڼه او معنا وکارول شي دخیل بلل کېږي او که لږ او ډېر معانیز او جولیز بدلون په کې راشي «د پورورې ژبې له اصولو سره ډېره ولګوي نو ادا پیتزمونه بلل کېږي، لکه په پښتو کې چې مفغن او په فارسي کې مفرس بلل کېږي[1]».

دا یادونه باید وکړو، چې له نورو ژبو څخه ویپیونه هغه وخت اخیستل کېږي، چې د یوه پور ویي پورول او کارونه اړین وي، دا باید له پامه ونه غورځول شي، چې د نیولوګېزم جوړول یوه اړینه پروسه ده او د دې لپاره چې یوه ژبه د نورو ژبو د سترې اغېزې او یرغل څخه خوندي وساتل شي لازمه ده، چې ژبپوهان او د ژبو څېړونکي د نیولوګېزمونو لړۍ پیاوړې او پسې اوږده کړي ترڅو نوي تولید شوي توکي ونومول شي او د هغوی له استعمال سره خلک او ټولنې اشنایي پیدا کاندي.

ایا په رښتیا هم نیولوګېزمونو ته اړتیا شته؟

کله چې موږ دا منو، چې د انسانانو ژوند په خپل اوسني شکل نه دی پاتې شوی او ډېرزیات بدلونونه په کې راغلي دي، ژبه چې د انسانانو له ژوند سره پخه اړیکه لري د دې بدلونونو له اغېزې څخه په یوه ډډه نشي پاتې کېدای، دا چې د بشري ټولنو د پرمختګ کچه یو شان نه ده همداسې یې د متقابلې اغېزې کچه هم متفاوته ده، نو ویلای شو هغه ژبې چې پر مخ تللې دي په نورو ژبو باندې تاثیر کوي او په ویي پانګو او نورو اړخونو باندې یې خپل ژور اثر خوروي، دې او دې ته ورته ستونزو ته په کتو سره ویلای شو، چې د نیولوګېزم جوړول یو پر ځای عمل دی او دا لړۍ باید چې په پرله پسې توګه پرمخ یوړله شي.

د نیولوګېزمونو د جوړلو او اهمیت په اړه د هېواد یوه تکړه استاد، ژبپوه، لیکوال او څېړونکي په خپل یو علمي اثر کې داسې ویلي دي: ... نوي احتیاجات او ضروریات د هرې ژبې پوهان دې ته اړ باسي، چې نوي لغات او کلمات جوړ او تیار کاندي، د لغاتو د تشکیل او جوړېدو سلسله باید چې همېشه په یوه ژبه کې جاري وي، ځکه چې همدا د یوې ژبې د ژوند او لوړتیا ذریعه ده[1].

دې ته مو هم باید فکر وي، چې نیولوګېزمونه په یوه ژبه کې د پوریزم د لړۍ له پیاوړتیا سره ډېره مرسته کوي او هغې ته قوت وربښي.

# پښتو غزل ددوه زره لسم کال په تناظر کې(۲)

## طاير ځلاند

خو که دا ټولې خبرې راټولې کړو او داسې ووايو چې دوه زره لسم کال په خپله ځولۍ کې داسې تازه ګلونه راوړي دي چې هغه سبا لپاره تخم ثابتېدلی شي او دغزل پر ځمکه ترې دښتې کرونډې توقع کېدلی شي زه په دې ليکنه کې يوازې د يو څو هغه شاعرانو نومونه راوړم چې زه پرې دا دعوه پر سر اخلم چې دغزل دپالنې ورټياوې په کې ترسترګو کيږي.

تر ټولو لومړی د دغه صفت نوم زه اتل افغان يادوم، ښاغلی اتل افغان که څه هم شاعري له څو کالو راهيسې کوي خو نن چې زه د هغه غزل ته ځيريم نو ماته د يو نوي شعري قوت نمونه يې په غزل کې له ورايه ښکاريږي.

هجرت الله اختياربيا له هغه زلمو نه دی چې شاعري کمه کوي خو په تول يې پوره کوي د ښاغلي اختيار شاعري چې تر ټولو اهمه موضوع يې دخپل وجود د معرفت د ورکو لارو پيدا کول دي د اضطرابيت او ناکرارۍ داسې ګرداب دی، چې د دې زلمي ناکرار طبعيت په کې واضح دی او که ووايم چې د کمې شاعرۍ با وجود يې هم د ځانګړتيا هڅه کړې ده نو ګرم به نه يم.

سعدالله فطرت که څه هم په ادبي ډلو کې به يې ډېر شهرت نه وي تر لاسه کړی خو د غزل سندريزه ژبه يې دومره له اثره ډکه ده چې لرې نه ده په روان شعري بهير کې دخپل وجود داثبات جواز راوړي.

ښاغلی جلال امرخيل بيا دا خوبي لري چې کله خو د هغه غزل له خپل کلاسيک سره داسې مظبوطه رشته ټينګه کړي چې موږ يې د ده دتخليقي سفر دپيل لپاره د يو بنياد په معنا ګڼلی شو، خو ولې ځينې وخت د نوښت په شوق کې هغه داسې بې لارې او سرشاره شي چې په دې نابلده غرۍ کې هم موږ خواره او رنګينې محسوسوو، ښه ښايسته شعري او غزليزه ژبه لري غزل يې که څه هم دا مهال د يو رنګ په ځای د شعري رنګونو ګلدسته ښکاري خو د رياضت چېله به يې دې ته پام راواړوي چې څنګه فکري مستقل مزاجي خپله کړي او دا به هغه څه وي چې له وسه به هغه د راتلونکي لپاره يوه حواله وګرځي.

ښاغلی سعيد زابلی که څه هم د دې اړتيا نه لري چې موږ يې وپېژندګلو ي وکړو ولې چې هغه په خپله لومړۍ شعري مجموعه (رمز) کې د يو شاعر اوغزلبول په توګه راښکاره شوی دی که څه هم له هغه وخته تر نن به يې ډېر تدريجي پرمختګ تر لاسه کړی وي خو ولې بيا هم زه يې په دې هم دلته ذکر کول ضروري ګڼم چې هغه د اوسمهال شعري بهير يو ژوندی، تازه، سنجيده او باشعوره غږ دی او د دې روان بهير زلمي ترې دا رنګ هم اخيستلی شي چې څنګه خپل تخليق د وخت له غوښتنو سره هم آهنګ کړي.

مجيد قرار هم د دې قافلې يو غړی دی چې د غزل په ژبه د وخت د زړه خبرې کوي د ښاغلي قرار غزل د خپلو حالاتو ترجماني هم کوي او د مينو زړونو د زړه درزا ته يې هم غوږ ايښی دی، غزل ليکي او ښه ډېر يې ليکي که څه هم دغه بيړنی تګ چې هغه يې د غزل په سخته لاره کوي کله کله يې د غزل خواږه کمزوري کړي خو ولې همدا زياته شاعري کول يې د رياضت لپاره يوه غوره لاره ده چې د غزل رنګ يې پرې پوخ کېدلی شي، زه يې يوازې له يو شي څخه ويره لرم چې کله کله يې د غزل ژبه هم دومره سپوره شي چې د غزل پر ځای د يوې سياسي غونډې د اعلاميې ګومان پرې کيږي که ښاغلی قرار همدا کار د هنر په جامه کې وکړي نو هم به يې خپل هغه مسوليت چې د يو ليکوال په حيث يې د ټولنې پر وړاندې لري پوره کړی وي او هم به يې د غزل د نازک وجود او مزاج سره هم انصاف کړی وي.

سيد جيلاني جلان چې د خپلې لومړۍ شعري ټولګې سره يې د خپل شعري وجود جواز راوړی دی د غزل له رموز سره اشنا دی او د غزل دخوږلت لپاره يې له ژبنيو جوړښتونو او شعري هنرونو څخه کار اخيستی دی د ګلپاڼو اټن کې داسې بريښي چې غزل ته دخپلې ژبې د ځانګړي کولو په هڅه کې دی هلته شعري ترکيبونه سمبولونه او ځينې کليوال انځورونه د ده په خپل تخليقي ذهن او شاعرانه تخيل دلالت کوي خو وروسته يې په مزه مزه خپله زړه لاره پرېښې ده او سادګي او لغړ روماني اظهار پرې غلبه کړې ده چې زه هيله لرم خپله لومړۍ پيل کړې لاره به نه پرېږدي او په هم هغې لاره به د پرمختګ نوي نوي خوبونه ګوري.

جاويد اوربل مخکې هم ما ياد کړ او ځکه په بيا بيا زما د ذهن دروازه ډبوي چې د هغه د غزل ساده ګي د يو اوريدونکي او لوستونکي په حيث ماته خوند راکړی دی او زما زړه کې يې ځای کړی دی، که څه هم داسې ډېرې پخې پخې خبرې به يې نه وي زده خو په ساده ګۍ کې يې دومره خوند دی چې سړی په دې اړ کوي چې يو ځل ورته غوږ کښېږدي د اوربل په غزل کې هم ماته داسې اثرات ښکاري چې په فطري توګه يې مزاج له غزل سره جوړ دی او که خپل سفر يې همداسې جاري وساته نو د يو غزل ګو تمه ترې کېدلی شي.

حيات الله وړ په زلمو شاعرانو کې بل هغه نوم دی چې ګومان کوم د هغه د راتلونکي په اړه به سړی په شک او ترديد کې ځکه نه وي چې هغه همدا اوس مهال هم د پوخ شعر څښتن دی اوس هم د هغه غزل په پوره معنا د غزل دغوښتنو باندې پوره دی هم فکري پراختيا لري او هم معنوي وسعت هم دغزل د هنر رنګ لري او هم د ادبي جمالياتو نه برخمن دی. پاتې د ربيم مخ...

# دغه (۱)

## نجيب الله منلی

خبره داسې ده چې دا زموږ دغه چې دی په دغه کې پروت دی، هوا هم دغه ده او اوبه هم په اسانه نه دغه کيږي نو دلته دغه نه شي دغه کېدای.

جمله به يې کټ مټ همداسې نه وه خو دې ته ورته يو څه وو. سپين ږيری بابا په کټ کې ناست و، د يوې فرانسوۍ ژورناليستې پوښتنو ته يې ځوابونه ويل.

زه له دې صحنې سره د پاريس د يو تلويزيوني پروډکشن په سټوډيو کې مخ شوم. له ما څخه غوښتل شوي وو چې په افغانستان کې د اپينو د کرکيلې د ستونزو په اړه د يوه راپورتاژ خبرې وژباړم. اروپايي ژورناليستان داسې نه دي لکه زموږ د ملي ټلوېزيون راپورتران چې د يوې اونۍ په سفر کوم لرې پراته ولايت ته لاړ شي نو د کمرې بېټرې يې هم پوره چارج نه لري او کسټ يې هم صرف د نيم ساعت له ځانه سره اخيستی وي. دا راپورتاژ بايد پنځه دېرش دقيقې شوی وای خو کمره مين شل دانې پنځه څلوېښت دقيقه يي کسټونه ډک کړي وو. اکثره به د لارې او د طبيعت تصويرونه وو، يا به د خلکو ګڼه ګوڼه وه، خو کله کله به په کې څو جملې ويل شوې وې او کله به بيا پوره دوه ساعته مرکه له يوه بې سواده بزګر يا له کوم حکومتي چارواکي سره وه. دا کسټ به د شلو کسټونو لسم، دولسم کسټ و. زه سهار په اتو بجو له راپورترې سره سټوډيو ته ننوتی وم او اوس د شپې نهه بجې کېدونکې وې. غرمه مو يوازې شل دقيقې وخت د يو سانډويچ نغړلو ته وقف کړی و. دواړه ښه ستړي وو. کله مې چې دا جمله واورېده، يوه شېبه ورته چورت يوړم چې اوس يې څنګه وژباړم؟ آخر مې راپورترې ته وويل چې «هېڅ يې و نه ويل!» د هغې سترګې ټېغې ټېغې راوختلې:

راپورې ملنډې وهې؟ سپين ږيری بابا لګيا دی د دېرش ثانيو يوه اوږده بيانيه ورکوي او ته وايې چې هېڅ يې ونه ويل!

---


# د زيري پنځاس ورځنۍ

## د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې

مسوول مدير: څېړندوی سيدنظيم سيدي

مهتمم: څېړندوی زکريا ملاتړ

پته: د افغانستان د علومو اکاډمي د نشراتو رياست

زنبق څلور لارې، کابل افغانستان

چاپ چاري: بهير مطبعه

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.com.
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use only.